
اوونیزه
پرمختیا

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت

هیله بخښونکې خبرونه!

۱۲۸ مه ګڼه ● پنجشنبه ● د غبرګولې ۱۵ مه ● د ۱۳۹۹ کال


# په کونړ ولایت کې د محافظوي دیوال پروژه بشپړه شوه



٦

## په ننګرهار کې به سلګونه جریبه ځمکه د سیلابونو او کونړ سیند له څپو وژغورل شي



۳

## بلخ ولایت کې د اوبولګولو د کانال پروژه بشپړه شوه



٤

## په کابل ولایت کې د اوبولګولو د کانال پروژه بشپړه شوه



٥

## په ننګرهار کې به نږدې ۳۰۰۰ کورنیو ته د څښاک پاکې اوبه برابرې شي



٥

## په خوست ولایت کې د سړک د جوړولو پروژې کار روان دی



۱۱ / غبرگولی / ۱۳۹۹

په خوست ولایت کې د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د سیمه ییز پروگرام له لوري د سړک جوړولو د پروژې کار ۸۰ سلنه مخ ته تللی دی.

د دغې پروژې په ترڅ کې د یاد ولایت د سپیرې ولسوالۍ په مانۍ کلي کې د ۱۰۸۰ مترو په اوږدوالي سړک جوړېږي.

د یادې پروژې د تطبیق پر مهال چې له ملي بودیجې تمویل شوې ۴۶۳۹ کاري ورځې رامنځته او د سیمې ۳۶۷۴ اوسیدونکي به له دغې پروژې گټه پورته کوي. د یادونې وړ ده چې د دغې پروژې په بشپړیدو به د سیمې کلي یو له بل سره ونښلول شي او د ځایي اوسیدونکو د تگ او راتگ په لار کې به گڼ شمیر آسانتیاوې رامنځته کړي.

## کرونا وایروس د خپرېدا د مخنیوي پر وړاندې یواځنۍ لار د عامه پوهاوي لوړول دي

۱۳۹۹ - غبرگولی - ۱۳

د ننگرهار ولایت د سره رود ولسوالۍ له هغو شپږو ولسوالیو څخه ده، چې د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروگرام پکې فعالیت لري. په دې ولسوالۍ کې د څلورو گروپونو ۳۳ غړو د پروگرام له اړخه د کرونا وایروس په اړه له وړاندې شویو سپارښتنو څخه گټه پورته کړې او په دې اړوند یې له پروگرام څخه د خوښیو څرگندونه وکړه.

د پروگرام کارکوونکي د خپلو ورځنیو کاري مسووولیتونو ترڅنگ، په مکرر ډول د لاسونو د وینځلو او له عفوني ضد موادو څخه د لوښو او د کور د وسایلو د پاک ساتنې په موخه د سپماگروپونو غړو ته سپارښتنې کوي.

په عمومي ځایونو کې د ماسک اغوستل، د داسې میوو کارول چې ویټامین C لرونکي دي، هغو خلکو ته له نږدې کېدو ډډه کول چې والگی او یا ټوخی لري، په مناسبه اندازه کې د خلکو ترمنځه واټن په پام کې نیول، د گڼې گوڼې ځایونو ته نه ورتگ او تر ډېره بریده په کور پاتې کېدل د خوندي ساتنې په برخه کې هغه سپارښتنې دي چې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروگرام د سیمه ییزو کارکوونکو له خوا کلیوالو ته په ننگرهار ولایت کې وړاندې کېږي.



## په ننگرهار کې د څلورمیلونه افغانیو په ارزښت د یوې پروژې قرارداد لاسلیک شو



۱۱/ غبرگولی/ ۱۳۹۹

د ننگرهار کلیو بیارغونې او پراختیا ریاست او د هسکې مینې ولسوالۍ د خم شورا ترمنځ د څه د پاسه څلورمیلونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو د یوې شبکې هوکړه لیک لاسلیک شو.

د ننگرهار کلیو بیارغونې او پراختیا رییس انجنیر امان الله میاخیل وویل د اوبو رسولو دغه شبکه ۴۸۶۳ متره اوږد والی لري چې د کلیو پراختیا وزارت د اوبو رسولو او روغتیا ساتنې ملي پروگرام RU-WATSIP له لوري د مالیې وزارت له بودیجې څخه جوړیږي چې ۳۰۰ کورنیو ته به د څښاک پاکې اوبه برابرې کړي.په ننگرهار کې د څلورمیلونه افغانیو په ارزښت د یوې پروژې قرارداد لاسلیک شو



# په هرات کې ۱۲ پراختیایي شورا ګانو ته د کرونا وایروس په اړه عامه پوهاوی ورکړل شو

۱۳۹۹/ غبرګولی/۱۳

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري او دعامی روغتیا وزارت د لارښوود له مخې د هرات ولایت د کهسان ولسوالۍ ۱۲ کلیو کې د کرونا ویروس په اړه کمپاین ترسره شو. په دغه کمپاین کې د کرونا ویروس ناروغانو د نښو ، له هغې څخه د ځان ساتنې او د وایروس د لیرد د مخنیوي د لارو چارو او د روغتیایي اصولو په پام کې نیولو په برخو کې لازم پوهاوی ورکړل شو د پراختیایي شورا ګانو غړو ژمنه وکړه چې دا مالومات به د کهسان ولسوالۍ له اوسیدونکو سره شریک کړي.

# په کابل کې د اوبولګولو د کانال پروژه بشپړه شوه

۱۳ / غبرګولی / ۱۳۹۹

په کابل ولایت کې د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د سیمه ییز پروګرام له لوري د اوبو لګولو د کانال د پروژې دویمه برخه چې څه باندې ۱ میلیون افغانۍ ارزښت لري ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

د دغې پروژې په ترڅ کې د دغه ولایت د ده سبز ولسوالۍ په تره خیل بالا کلي کې د ۲۳۸ مترو په اوږدوالي د اوبو لګولو کانال جوړ شو.

د یادې پروژې د تطبیق پر مهال چې د کرنې د پرمختیایي نړیوال صندوق ( IFAD ) له لوري تمویل شوی ۱۱۸۹ کاري ورځې رامنځته شوې او د سیمې ۱۷۵۰ اوسیدونکي له دغې پروژې ګټه پورته کوي. د یادونې وړ ده چې د دغه کانال له لارې د سیمې ۱۰۵ جریبه کرنیزه ځمکه د اوبو لګولو تر منظم پوښښ لاندې راغلې ده.



# په بدخشان کې له ۱۳ اړو کورنیو سره د څه باندې ۶۹ زره افغانیو په ارزښت د خوراکي توکو مرسته وشوه

۱۳۹۹/غبرګولی/۱۳

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام د غله جاتو د بانک له لوري له ۱۳ اړو کورنیو سره د څه باندې ۶۹ زره ا فغانیو په ارزښت د بدخشان ولایت د یاوان ولسوالۍ اړوند دسر پل پراختیایي شورا له خوا د خوراکي توکو مرستې وشوې. دغه مرستې د ولسي تړون د ټولنیز ګډون لپاره د مالي وجهي پروګرام (SIG) لخوا چې د خلکو ونډه هم پکې شامله وه، کلیوالو ته وراندې شوې یدې مرستو کې اوړه، غوړي، بوره او خرما شامل وو. د بې روزګارۍ او موسمي لوږې په موده کې د کلیو اړو کسانو ته د غله جاتو بانکونو له لارې مرسته د شتمنو خلکولخوا د بیوزلو کسانو دلاسنیوي فرهنګ خپروي.





# په ننګرهار کې به سلګونه جریبه ځمکه د سیلابونو او کونړ سیند له څپو وژغورل شي

۱۲/ غبرګولی/ ۱۳۹۹

د ننګرهار ولایت د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د سیمه ییزې پراختیا (Regional Program ) او د کامې ولسوالۍ د قطب خیلو شورا تر منځ په کامې ولسوالۍ کې د سیلابونو او کونړ سیند له څپو څخه د کرنیزو ځمکو د ژغورلو په موخه د ۱۷،۹ میلونه افغانیو په ارزښت د یوې پروژې هوکړه لیک لاسلیک شو.

دغه پروژه د ۴۴۵ مترو په اوږدوالي سره د یوه بولدر وال ( غټوډبرو استنادي دیوال) جوړول دي.

ددې بولډروال په جوړیدو سره به د کامې ولسوالۍ په قطب خیلو او یوشمیر نورو سیمو کې نږدې ۹۰۰ جریبه ځمکه د سیلابونو له ګواښ څخه وژغورل شي.



## بلخ ولایت کې د اوبولگولو د کانال پروژه بشپړه شوه

۷ / غبرگولی / ۱۳۹۹

په بلخ ولایت کې د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت د سیمه ییز پروگرام له لوري د اوبو لگولو د کانال پروژه چې نږدې ۲ میلیون افغانۍ ارزښت لري گټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

د دغې پروژې په ترڅ کې د دغه ولایت د نهر شاهي ولسوالي په شهرک کوهنه کلي کې د ۲۲۵ مترو په اوږدوالي د اوبو لگولو کانال جوړ شو.

د یادې پروژې د تطبیق پر مهال چې د ایټالیا له لوري تمویل شوې ۱۵۲۹ کاري ورځې رامنځته شوې او د سیمې ۱۰۵۰ اوسیدونکي لدغې پروژې گټه پورته کوي. د یادونې وړ ده چې د دغه کانال له لارې د سیمې ۵۰ جریبه کرنیزه ځمکه د اوبو لگولو تر منظم پوښښ لاندې راغلې ده.

## هېواد په کچه د کورونا وژونکي وایروس په اړه د عامه پوهاوي د کمپاینونو دوام

۱۳۹۹ - غبرگولی - ۱۴

د هېواد پر کچه په دېرې چټکتیا سره د راغلې کرونا وایروس د خپرېدو په لړ کې د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروگرام د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې تر پوښښ لاندې سیمو کې کلي په کلي کور په کور د عامه پوهاوي کمپاین په پیل کړی.

د عامه پوهاوي دا کمپاین په ورځنی بڼه د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروگرام د سیمه ییزو کارکوونکو لهخوا په شفاهي او کتبي بڼه په جلا پاڼو کې چې د عامې روغتیا وزارت پیغامونه او سپارښتنې پکې لیکل شوي، په خلکو ویشل کیږي.

د دې کمپاینونو له پیل څخه تر دې دمه د هېواد په اوو زونونو کې د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت سپما گروپونو ته ۴۴۶۳ ځله عامه پوهاوی ورکړل شوی او دا لړۍ به د دې وژونکي وایروس د له منځه تللو تر وخته دوام وکړي.

د یادونې وړ ده، چې کابل، هرات، کندهار، بلخ، ننگرهار او خوست له هغو ولایتونو څخه دي، چې تر اوسه یې د دې پروگرام لهخوا د عامه پوهاوی ډېر کمپاینونه پهکې ورکړل شويدي.





## په هرات کې د کلیو د پراختیایي شوراگانو غړو ته د کرونا وایروس په اړه عامه پوهاوی ورکړل شو

۱۳۹۹/ غبرگولې /۱۳

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروگرام له لوري او د عامې روغتیا وزارت د لارښود له مخې د هرات ولایت د پشتون زرغون ولسوالۍ اړوند د سفیدان سفلی او سفیدان علیا کلیو کې د کرونا وایروس په اړه کمپاین ترسره شو. په دغه کمپاین کې د کرونا وایروس ناروغانو د نښو ، له هغې څخه د ځان ساتنې او د وایروس د لیږد د مخنیوي د لارو چارو او د روغتیایي اصولو په پام کې نیولو په برخو کې لازم پوهاوی ورکړل شو د پراختیایي شورا گانو غړو ژمنه وکړه چې دا معلومات به د پشتون زرغون ولسوالۍ له اوسیدونکو سره شریک کړي.



## په کابل ولایت کې د اوبولگولو د کانال پروژه بشپړه شوه

۱۰ / غبرگولی / ۱۳۹۹

پـه کابـل ولایـت کـې د کلیـو د بیـا رغونـې او پراختیـا وزارت د سـیمه ییـز پروگـرام لـه لـوري د اوبـو لگولـو د کانـال د پـروژې لومـړی برخـه چې نږدې ۲ میلیون افغانۍ ارزښت لري گټې اخیسـتنې تـه وسـپارل شـوه.

د دغـې پـروژې پـه ترڅ کـې د دغـه ولایـت د ده سبز ولسوالي پـه تره خیل بـالا کلي کـې د ۲۷۰ مترو پـه اوږدوالي د اوبـو لگولـو کانـال جـوړ شـو. د یادې پروژې د تطبیق پـر مهال چې د ایټالیا لـه لـوري تمویـل شـوې ۱۴۴۲ کاري ورځـې رامنځتـه شـوي او د سـیمې ۱۷۵۰ اوسـېدونکي لدغـې پـروژې گټـه پورتـه کـوي. د یادونـې وړ ده چـې د دغـه کانـال لـه لارې د سـیمې ۹۰ جریبـه کرنیـزه ځمکـه د اوبـو لگولـو تـر منظـم پوښـښ لانـدې راغلـې ده.

## په ننگرهار کې به نږدې ۳۰۰۰ کورنیو ته د څښاک پاکې اوبه برابرې شي

۱۰/ غبرگولی/ ۱۳۹۹

د ننگرهـار کلیـو بیارغونـې او پراختیـا ریيـس انجینـر امـان الله میاخیـل د گوشـتې ولسـوالۍ اړونـد ۱۴سرحدي کلیـو تـه د پاکو اوبـو رسـولو او یـوه کلي تـه د استنادي دیوال د جوړیـدو هوکـړه لیکونـه لاسلیک کـړل .

دغـه پـروژې پـه ختیـځ زون کـې د سـویډن کمیټـې (SCA) پـه مـالي مرسـته د ننگرهـار کلیـو بیارغونـې او پراختیـا ریاست ترنظـارت او څارنـې لانـدې د گوشـتې ولسـوالۍ پـه کرونـدې، سرکانیـي ، ماماخیـل ، صوفـی بابـا، تورکانـي، گـړو، مکتـب اول ، لعـل شـورا، ځاگـی، تـور راغـه، کـوز زیـړي، برزیـړي ، اورخیلـو او زیـارت ډاگ کلیـو کـې پلـې کیـږي چـې نـږدې ۲۹۵۰ کورنیـو تـه د څښـاک پاکـې اوبـه برابـروي او دغـه راز ۸۰ جریبـه ځمکـه د سـیلابونو لـه گوابـښ څخـه خونـدي کـوي.





## په بلخ ولایت کې د کلیو د پراختیایي شوراگانو غړو ته د کرونا ویروس په هکله عامه پوهاوی ورکړل شو

۱۳۹۹ / غبرگولې / ۱۱

د کلیـو بیـا رغونـې او پراختیـا وزارت د ولسـي تړون ملي پروگـرام لـه لـوري او د عامـې روغتیـا وزارت د لاربښـود سره سـم د بلخ ولایـت د چهارکنـت ولسـوالۍ د قربـان قـدوق او قلیـن قـاق د کلیـو د پراختیایي شـوراگانو غړو تـه د کرونـا ویـروس پـه هکلـه عامـه پوهـاوی ورکـړل شـو. پـه دغـه کمپایـن کـې د شـوراگانو غـړو تـه د کرو نـا ویـروس د وقایـې، د لیـرد د مخنیـوي د لارو چـارو او د ویـروس د خطرونـو څخـه د ځـان ساتنې پـه هکلـه لازم معلومـات وړانـدې شـول. دوی هـم د ولسـي تړون ملـي پروگـرام لـه لـوري د کرونـا پـه اړه د عامـه پوهـاوي هرکلـی و کـړ او ژمنـه یـې و کـړه چـې پـه خپلـه سیمه کـې بـه د کرونـا ویـروس د مخنیـوي پـه هکلـه خپـل مسـؤولیت ادا کـړي.



## په ننګرهار کې د یوه کلیوالي سړک او ویالو د جوړیدو کارروان دی

۱۳۹۹/غبرګولی/۱۴

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام د ساتنې او ودانی له پاره د پراختیایي نغدي وجهي پروګرام (MCCG) له لوري د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالی په بره چینې کلي کې د ۶۰۰ متره په اوږدوالي دیوه سړک او ویالو د جوړیدو چارې ۹۵ سلنه بشپړې شوي دي.

ددې پروژې په بشپړیدو سره ۹۲ کاریګرو ته ۳۶۸۰ کاري ورځې رامنځ ته شوي او د۲۶۳ کورنیو ستونزې به هوارې شي.

## په لوګر کې له ۱۷ اړو کورنیو سره د څه باندی ۱۶۳ زره افغانیو په ارزښت د خوراکي توکو مرسته وشوه

۱۳۹۹/غبرګولې/۸

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام د غله جاتو د بانک له لوري له ۱۷ اړو کورنیو سره د څه باندې ۱۶۳ زره افغانیو په ارزښت د لوګر ولایت د پل علم ولسوالی اړوند د کنجک پایین پراختیایي شورا لخوا د خوراکي توکو مرستې وشوې. دغه مرستې د ولسي تړون د تولنیز ګډون لپاره د مالي وجهې پروګرام (SIG) لخوا چې د خلکو ونده هم پکې شامله وه، کلیوالو ته وړاندې شوې پدې مرستو کې اوړه، غوړي، وریجې، دال، مالګه، صابون او پوډر شامل وو.



## په کونړ ولایت کې د محافظوي دیوال پروژه بشپړه شوه

۷ / غبرګولی / ۱۳۹۹

په کونړ ولایت کې د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت د سیمه ییز پروګرام له لوري د محافظوي دیوال پروژه چې څه باندې ۶ میلیونه افغانی ارزښت لري بشپړه شوه.

د دغې پروژې په ترڅ کې د دغه ولایت د نورګل ولسوالي په بیلې کلي کې د ۵۴۰ مترو په اوږدوالي بولډر دوله محافظوي دیوال جوړ شو.

د یادې پروژې د تطبیق پر مهال چې له ملي بودیجې تمویل شوې ۱۱۱۰ کاري ورځې رامنځته شوي او د سیمې ۱۰۳۸ اوسیدونکي لدغې پروژې ګټه پورته کوي. د یادونې وړ ده چې د دغې پروژې له لارې د سیمې ګڼ شمیر کرنیزه ځمکه د سیلابونو له ګواښ څخه خوندي شویده.





## په فاریاب ولایت کې ۱۰۰ کلیوالي کورنیو ته د څښاک پاکې اوبه برابرې شویدي

۱۳۹۹/غبرګولې / ۸

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام په وسیله ۱۰۰ کلیوالي کورنیو ته د فاریاب ولایت د قرغان ولسوالی اړوند په میرآباد کلي کې د څښاک د پاکو اوبو د لاسرسی زمینه برابره شوه. نوموړې شبکه ۱۵۵۰ متره اوږدوالی، د اوبو ۱۶ مکعبه متره ظرفیت په لرلو یوه ارتفاعی زیرمه ، د ۷ نلکو او دوه نیمه ژورو څاګانو لرونکې ده چې اوسمهال بشپړه او ګټې اخستنې ته سپارل شویده. د یادونې وړ ده چې د دغې پروژې د کار په بهیر کې ۸۴۰ ماهرو او غیرو ماهرو کاریګروته کاري ورځې برابرې شوېدي چې پر دې پروژه شاوخوا ۱ میلیون او ۸۰۰ زره افغانی پرې لګښت راغلې.

## په ننګرهار ولایت کې د څښاک د پاکو اوبود یوې شبکې د جوړیدو کارروان دی



۱۳۹۹/غبرګولي / ۱۴

د کلیود بیارغونې او پرا ختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د ۴۰ زره لیتره اوبو ظرفیت لرونکې دغه شبکه د سره رود په ولسوالی کې د د حاجیانو کلیوالي پراختیایي شورا لپاره په پام کې نیول شوې، چې په جوړیدو سره به یې ۲۲۵۰ تنه خایي اوسېدونکي د څښاک د پاکو اوبو څخه برخمن شي، چې د جوړیدو په ترڅ کې به یې ۱۱۸۰ کاري ورځې د ماهرو او غیر ماهرو کارکوونکیو لپاره رامنځته شي.

## کار ساخت شش باب مکتب در پنج ولایت کشور به زودی تکمیل خواهد شد

۱۵ جوزای ۱۳۹۹

کار ساخت شش باب مکتب زیر چتر پروژه‌ی اقرای برنامه‌ی ملی میثاق شهروندی وزارت احیا و انکشاف دهات در ولسوالی زیک زیک وطنی ولایت بلخ، ولسوالی کرخ ولایت هرات، ولسوالی آبکمری ولایت بادغیس، ولسوالی گلدره‌ی ولایت کابل و ولسوالی‌های اسماعیل خیل مندوزی و زازی میدان ولایت خوست به زودی تکمیل و به بهره برداری سپرده خواهد شد.

این مکاتب دارای ۱۲، ۱۰ یا ۶ صنف درسی، تشناب و چاه‌های آب آشامیدنی بوده و با تکمیل کار اعمار آن‌ها، برای دانش آموزان ۱۸۸۰ خانواده زمینه‌ی فراگیری علم و دانش در فضای سالم و مناسب درسی فراهم خواهد شد.

گفتنی است که در جریان ساخت مکاتب یاد شده هزاران روز کاری نیز برای کارگران فنی و غیر فنی ایجاد شده است.







## تاسیس گروپ‌های پس‌انداز در ولایت غزنی



۱۵ جوزا ۱۳۹۹

برنامه‌ی ملی انکشاف اقتصاد روستایی وزارت احیا و انکشاف دهات در جریان سه ماه گذشته در قریه‌های مختلف مرکز ولایت غزنی ۲۰۱ گروپ پس انداز (۱۹۰ گروپ زنانه و ۱۱ گروپ مردانه) را تاسیس کرده است.

این برنامه در ولایت غزنی از طریق موسسه همکار کوار تطبیق می‌شود و کارمندان موظف در این موسسه همه روزه در کنار انجام وظایف رسمی خویش، در مورد ویروس کرونا به روستانشینان غزنی آگاهی دهی می‌کنند.